هل سألت نفسك؟ من خلقك؟ ولماذا؟ وماذا بعد الموت؟ (للجمعية)

ايا تا له خپل ځانه پوښتلي چې چا پيدا کړی يې؟ ولې يې پيدا کړی يې؟ او دا چې پس له مرګه څه راځي؟

*ایا تا له خپل ځانه پوښتلي چې چا پیدا کړی یې؟ ولې یې پیدا کړی یې؟ او دا چې پس له مرګه څه راځي؟*

د ژبو په برخه کې د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

## ایا تا له خپل ځانه پوښتلي دي چې چا پیدا کړی یې؟ او ولې یې پیدا کړی یې؟ او دا چې پس له مرګه څه راځي؟

د ژبو په برخه کې د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

اې انسانه، ته چا پیدا کړی یې؟ که ته خپل بدن په مایکروسکوب وګورې، نو ته به د دقت او معجزو یوه نړۍ ووینې، ستا په بدن کې هره حجره په خپل ځان کې جینیټیکي معلومات لري، چې کوډونه یې پیچلي دي، آیا تاسو کله هم له ځانه پوښتلي چې دا کوډونه چا لیکلي دي؟ او چا هر یو په خپل مناسب ځای کې ځای پر ځای کړي دي؟

هره لوړه ودانۍ، او هر کوچنی کور، د خپل جوړونکي کیسه بیانوي؛ نو ایا دا معقوله ده چې دا پراخ او په ښکلي، دقیق او منظم ډول جوړ شوي کائنات، بې له جوړوونکي څخه را منځته شوي وي؟!

اې انسانه! لکه څنګه چې ستا ذهن به دا ونه مني که وویل شي چې یو ښکلی جوړ شوی ځیرک ټیلیفون ناڅاپه له ډیزاینر او جوړوونکي پرته راڅرګند شوی دی، یا دا چې د وسایلو یوه پیچلې شبکه د پروګرامر او لارښود پرته په یو عالي همغږۍ او دقت سره کار وکړي، همدا رنګه عقل به دا هم ونه

مني چې وویل شي: دا لوی کائنات، چې ښکلا، دقیق نظام او پیچلي قوانین لري، پرته له جوړوونکي څخه رامنځته شوي وي؟!

په دې کائناتو کې هره ذره، له کوچنی اتوم څخه تر لویې کهکشان پورې، د خپل خالق د عظمت څرګندونکې ده! دا عقلاً ناممکن ده چې دا ښکلی او دقیق نظام له بی ترتیبۍ څخه رامنځته شوی وي، عقل هېڅکله دا نه مني چې دا کاینات له هیڅ څخه رامینځته شوي وي او یا دا چې دا پیچلی او حیرانوونکی نظام د یو ړانده چانس محصول وي!

لکه څنګه چې صحیح عقل او سالم فطرت انسان د کایناتو د خالق په شتون ایمان لرلو ته هڅوي، همدا راز موږ هم هڅوي چې د دې خالق په صفتونو او پر موږ یې د حقونو په اړه فکر وکړو.

د دې خالق د صفتونو په اړه غور کول زموږ لپاره د ژورې پوهې دروازې پرانیزي، چې ښيي هغه د مطلق کمال خاوند او له هر عیب څخه پاک وي.

دا پدې معنا ده چې خالق تعالی د ټولو ښکلو او عظیمو صفتونو څښتن دی، هغه تعالی په هر شي قادر، په هر شي پوه او ټول هغه څه یې چې پیدا کړي او یا مقدر کړي؛ حکیم دی، دا کمال یواځې یو احتمال نه، بلکې د عقل اړتیا ده، ځکه چې که د هغه په صفاتو کې کومه نیمګړتیا وي، نو په پیدایښت او نظام کې به نیمګړتیا راڅرګنده شي، او دا هغه څه دي چې موږ یې په کائناتو کې د محکم او پرته له عیب څخه د نظام په توګه وینو.

همدارنګه، له نېمګړتياوو څخه پاک والی دا لازموي چې خالق د خپلو مخلوقاتو څخه بې نيازه وي، او هيچا ته اړتيا نلري، بلکې ټول مخلوقات د خپل وجود او بقا لپاره هغه ته محتاج دي، هغه (جل جلاله) د شريک او اولاد څخه پاک دی، ځکه چې دا دواړه د نقص او عجز څرګندوونکي دي، او الله (عز وجل) د دې ټولو څخه پاک دی.

نو کله چې الله تعالی لوی خالق دی، د کمال او عظمت په صفاتو کې ځانګړی دی، هغه ذات چې مونږ او ټول کاينات يې له نشت څخه پيدا کړي يو او هر څه چې پدې کايناتو کې دي د هغه ملکيت دی، او هغه ذات چې موږ ته روزي راکوي او خپل رحمت راباندې کوي، او هغه د هر شي تدبير او اداره کوونکی دی؛ نو آيا موږ ته لازم نه دي چې منندويي يې وکړو او په دې فکر کې شو چې د هغه خوښي څنګه ترلاسه کړو، او هغه واجب حق چې پر موږ يې لري، څنګه ادا کړو؟ او د هغه هدف د ترلاسه کولو لپاره زيار وباسو چې موږ يې د هغه لپاره پيدا کړي يو؟!

آيا دا منطقي ده چې الله تعالی موږ پيدا کړي او بيا موږ ته ونه ښيي چې زموږ څخه څه غواړي؟ موږ ولې دلته يو؟ زموږ د ژوند مقصد او هدف څه دی؟ تر مرګ وروسته به موږ ته څه پېښيږي؟

زما سره فکر وکړه که يو انسان يوه ډيره ښکلې ماڼۍ جوړه کړي، او د ټېکنالوژۍ پر نويو وسايلو يې سمباله کړي، او کله يې چې د جوړولو کار پای ته ورسيږي او ناڅاپه يې له کوم سبب پرته په بشپړ ډول ويجاړه کړي، آيا دا انسان په حکمت

توصيفولی شو؟ آيا ښکاره نه ده چې داسې عمل بې معنی او د عاقل سره نه ښايي؟

نو که دا عمل د يوه انسان په وړاندې ناسم ښکاري، نو څنګه دا تصور کېدی شي چې حکيم او خبير الله دا ښکلی او بې‌نظيره نړۍ په داسې ښکلا او تکامل سره رامنځته کړې وي، بيا يې پرته له هدف او حکمت څخه ړنګه کړي؟!

الله تعالی انسانان د يوې لويې موخې لپاره پيدا کړي دي، او هغه دا چې يوازې د هغه ذات عبادت وکړي، کوم چې هيڅ شريک نلري، او د دې لپاره چې هغوی و ازمويي، او هغوی لپاره يې معين وخت ټاکلی دی چې د قيامت په ورځ به يې بېرته را ژوندي کوي ترڅو هغوی سره د ترسره شويو عملونو حساب وکړي؛ نو څوک چې په الله تعالی ايمان راوړي او د هغه بلنه قبوله کړي، هغه ته به د جنت نعمتونه ورکړل شي چې په هغې کې به تلپاتې وي، او څوک چې له حق څخه مخ واړوي هغه به د دوزخيانو څخه وي.

نو عبادت موږ باندې يو حق او مکلفيت دی، ځکه چې د هغه موخې لپاره موږ پيدا شوي يو؛ او دا زموږ د شکر او د الله تعالی په ربوبيت او الوهيت باندې د اعتراف ثبوت دی.

نو په دې فکر وکړه چې الله تعالی هغه ذات دی چې ته يې پيدا کړی يې، او د اورېدو، او ليدلو په ځېر دومره نعمتونه يې درکړي دي، چې نه شمېرل کېږي، او هغه داسې ذات دی چې ستا په رګونو کې وينه جاري کوي، او تا ته اوبه او هوا درکوي، او ته په هر وخت کې د هغه ذات محتاج يې، که د هغه رحمت او پاملرنه نه وای، نو ته به هلاک او خپل ځواک

به دې له لاسه ورکړای وای، بلکې، هغه مهربان ذات کله چې ته د خپل مور په نس کې جنین او بې وسه وې ستا د رزق کفالت یې کړی دی.

ایا دا عظیم او لوی خالق د دې حق وړ نه دی چې په داسې ډول عبادت یې وشي چې هغه یې غواړي، نه هغه ډول عبادت چې ته یې غواړې؟! فکر وکړه، که ته غواړې خپلې مور ته ډالۍ ورکړې، ایا ته به هغه څه انتخاب کړې چې ستا خوښیږي، یا دا چې ته به هڅه وکړې چې هغه څه باندې ځان پوه کړې چې د هغې د خوښوۍ لپاره مناسب وي؟ په همدې ډول، د الله جَلَّ وَعَلَا عبادت هم باید د هغه په حکم او په هغه ډول ترسره شي چې هغه امر کړی دی، نه د خپلو خواهشاتو او میراثي دودونو په بنسټ.

عبادت باید په خالص ډول الله تعالی لپاره ترسره شي، هغه ذات چې هېڅ شریک نه لري؛ نو انسان لپاره جواز نه لري چې عبادت د خپل خالق پرته د بل چا عبادت وکړي، تر ټولو لویه ګناه چې ابدي دوزخ پرې لازمیږي، د الله سره شریک جوړول دي، په دې معنا چې یو کس د الله پر ځای د هغه د مخلوقاتو عبادت وکړي، لکه د بتانو، لمر، سپوږمۍ، یا د بشر، حیوان، یا د یو صالح سړي عبادت وکړي، دا ټول د شرک او کفر بیلګې دي، او څوک چې په دې حالت مړ شي، د هغه جزا به په جهنم کې د تل لپاره ابدي عذاب وي.

الله جل جلاله ګڼ شمېر انبیاء او رسولان رالیږلي دي، ترڅو موږ ته په دې نړۍ کې زموږ د شتون او د ژوند د هدف په اړه خبر راکړي، او ټولو رسولانو یو پیغام درلود، او هغه

د اسلام پیغام، او دا چې یوازې باید د خالق عبادت وشي او د هغه سره شریک و نه نیول شي، خو ځینو خلکو د مخکینیو رسولانو په لاربښوونو کې تحریف او بدلون راوست، نو الله تعالی د رسولانو وروستی پیغمبر محمد (صلی الله علیه وسلم) راولیږه او پر هغه باندې یې د بشریت لپاره وروستی کتاب، قرآن کریم، نازل کړ. ګڼ شمېر عقلي او علمي شواهد شته چې دا ثابتوي چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، او دا یوازینی کتاب دی چې تحریف او بدل شوی نه دی، الله جل جلاله په قرآن کریم کې موږ ته خبر راکړی چې هغه به له انسان څخه د اسلام له دین پرته بل څه ونه مني، او دا چې ټولو پیغمبرانو یو پیغام درلود: او هغه د خالق توحید او یوازې د هغه عبادت ته بلنه ورکول دي چې هېڅ شریک نه لري، او همدارنګه، الله تعالی په قرآن کریم کې موږ ته خبر راکړی چې د مومنانو لپاره جنت او د تل لپاره نعمتونه شتون لري، او د هغو کسانو لپاره چې د الله تعالی نه پرته د بل چا عبادت کوي، یا اسلام کې له داخلېدلو څخه انکار کوي، دوزخ او دردناک عذاب شتون لري.

هغه څه چې اسلام له نورو ادیانو څخه جلا او ځانګړی کوي، دا دی چې یواځې مسلمانان د عقلي دلیلونو او علمي حقایقو په مرسته، او د معتبرو علمي سرچینو پر بنسټ، دا ثابتولی شي چې کوم قرآن کریم چې نن ورځ د دوی په لاسونو کې دی، د الله تعالی له خوا نازل شوی کلام دی، او د هر ډول تغیر او تحریف څخه خوندي دی.

قرآن کریم هغه کتاب دی چې الله تعالی بر خپل پیغمبر محمد ﷺ نازل کړی دی، او څوارلس پیړۍ دمخه یې ټول بشریت ننګولی چې د دې په څیر یو کتاب یا حتی یو سورت راوړي، خو هغوی دا کار ونشو کولی، او دا ننګونه تر نن ورځې پورې دوام لري، پرته له دې چې هیڅوک د فصاحت، بیان، اعجاز او تشریع به برخه کې د قرآن سره برابر یا نږدې هم څه راوړي، د قرآن اعجاز یوازې په هغه ځانګړې ژبه او بیان کې محدوده نه ده، چې د فصاحت او بلاغت تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې ده، بلکې دا هغه ډول عقلي او علمي شواهد هم لري چې په څرګند ډول ثابتوي دا د الله تعالی کلام دی، کله چې قرآن کریم داسې واضح دلایل لري چې دا کتاب د الله تعالی له جانبه دی، نو عاقلانه او منطقي عمل دا دی چې پرې ایمان راوړل شي او د هغه په لارښوونو باندې عمل وشي، د هغه کتابونو پرځای چې بشر تالیف او لاس وهنه یې په کې کړې ده.

سالم عقل موږ ته دا ښيي چې د هغه خالق کلام، چې ځمکه او آسمان یې په بې مثله توګه جوړ او نظام یې په بشپړ ډول سره سمبال کړی، د حقیقت پېژندلو تر ټولو روښانه او ریښتینی سرچینه ده، کله چې په قرآن کې موږ دا ژبنی اعجاز، علمي حقایق، بشپړ تشریعات او له تحریف څخه یې ساتنه وینو، سربېره پر دې چې د پېړیو په اوږدو کې یې ساتنه شوې ده، نو بیا له دې حقیقت څخه تېښته نشته چې ومنو چې دا کتاب د الله تعالی کلام دی.

نو په قرآن کې راغلي حقیقتونو باندې باور کول نه یوازې یو ایماني انتخاب ده، بلکې یو منطقي او عقلاني فیصله ده چې د حقیقت په لټه کې د علم او استدلال سره مطابقت لري.

الله تعالی په قرآن کریم کې دا روښانه کړې ده چې هغه موږ بې ګټې نه یو پیدا کړي، بلکې هغه موږ د خپل عبادت لپاره پیدا کړي یو.

الله تعالی په قرآن کریم کې موږ ته څرګنده کړې ده چې دا دنیایي ژوند چې موږ په کې ژوند کوو، یوه لنډمهاله مرحله ده چې ډېر ژر به پای ته ورسیږي، خو حقیقي او تلپاتې ژوند به په آخرت کې وي، چېرته چې مومنان جنت ته او کافران دوزخ ته داخل شي.

هغه خالق ذات چې موږ یې له عدم څخه پیدا کړي یو، په یقین سره د دې توان لري چې له مرګ وروسته مو بیا ژوندي کړي،

او زموږ شاوخوا په کایناتو کې د الله تعالی د لامحدود قدرت او ځواکمنتیا نښې ګورو، چې مړه شیان بیا ژوندي کوي؛ لکه څنګه چې الله تعالی له شنې ونې څخه اور راوباسي، او له وچې ځمکې څخه فصلونه او میوې راوباسي، او د مور په رحم کې د نطفې څخه ماشوم پیدا کوي، نو همدارنګه هغه ذات د دې توان لري چې مړي د قیامت په ورځ د جزا لپاره له قبرونو څخه راپورته کړي، الله په هر شي باندې قادر دی، او دا به ظلم وي چې د ظالم او مظلوم ژوند پرته له حساب او جزا پای ته ورسیږي.

او ممکن چې یو انسان پوښتنه وکړي چې ولې یوازې اسلام (غوره شي)، پرته له نورو دینونو څخه؟!

هغه لوی توپیر چې انسان له نورو مخلوقاتو څخه بېلوي، عقل دی، او د عقل دنده دا ده چې فکر وکړي او د حقایقو په لټه کې اوسي.

اسلام داسې یو دین دی چې صحیح عقل او سالم فطرت سره سمون لري، او د انسان د ژوند د اساسي پوښتنو منطقي ځوابونه وړاندې کوي: ولې موږ دلته یو؟ زموږ د ژوند مقصد څه دی؟ تر مرګ وروسته څه شی دی؟

اسلام پر دې بنسټ ولاړ دی چې خالق یوازې د عبادت وړ دی او دا په "لا إله إلا الله" کې څرګندېږي. دا لومړنۍ شهادت ده، چې په اسلام کې د ایمان اصل دی، او معنی یې دا ده چې نشته په حقه سره لایق د عبادت مګر یوازې الله تعالی دی.

او دغه ګواهي لاندې څیزونو ته شاملېږي:

توحید: په هغه الله ایمان لرل چې یوازې هغه ذات د عبادت وړ دی، شریک، زوی او سیال هم نه لري.

د شرک څخه بېزاري: یعنې ټول هغه بتان او معبودان چې د انسانانو لخوا جوړ شوي دي، په کلکه ردول.

اسلام دا لازم ګڼي، چې مسلمانان باید په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړي، او دا چې په عیسی (علیه السلام)، د الله بنده او رسول په توګه ایمان ولري لکه څرنګه چې قرآن کریم خبر ورکړی دی، نه دا چې د الله تعالی زوی دی؛ ځکه چې الله تعالی لوی دی او د هغه لپاره نه ښایي چې میرمنې یا زوی

ولري، الله تعالی د مېرمن، زوی او هر څه څخه بې نیازه دی، او الله تعالی موږ ته په قرآن کریم کې خبر راکړی چې عیسی علیه السلام یو پیغمبر و چې الله تعالی ورته ډېرې معجزې ورکړې وې، او هغه یې د دې لپاره لیږلی و چې خپل قوم یوازې د الله تعالی عبادت کولو ته دعوت کړي، هغه ذات چې شریک نه لري، او الله تعالی بیان کړی چې عیسی علیه السلام هیڅکله له خلکو نه و غوښتلي چې د هغه عبادت وکړي، بلکې هغه پخپله د خپل خالق عبادت کاوه، نو که ته غواړې په ریښتیا سره په عیسی علیه السلام باور ولرئ، کوم چې الله تعالی یې خوښوي، نو ته باید اسلام کې داخل شی.

الله تعالی موږ ته په قرآن کریم کې ویلي چې عیسی علیه السلام خپل قوم ته امر کړی چې یوازې د الله تعالی عبادت وکړي او هغوی یې له شرک څخه ډارولي او منع کړي وو.

ایا دا د یو عقلمند انسان لپاره منطقي ده چې د ځان په ځیر د یو مخلوق عبادت وکړي، چې وږی او تږی کیږي او د ځان څخه د مرګ یا زیان مخه نشي نیولی؟! ای انسانه! ته څنګه کولی شې، چې د عیسی زوی د مریم عبادت وکړې، هغه یو انسان و چې خوراک او څښاک یې کاوه، او د عبادت او لمونځ له لارې خپل خالق ته یې رجوع کوله؟! ایا عقل د دې تصور کولی شي چې یو معبود خپل ځان لپاره عبادت او لمونځ وکړي؟! ایا الله تعالی هغه ذات نه دی چې د عظمت ځانګړتیا لري، هغه ذات چې په خپل کمال کې بې ساری، او له هر ډول شباهت یا برابرۍ څخه منزه دی، او په کایناتو کې چې هر څه دي د هغه د قدرت او واک لاندې دي؟ دا څنګه ممکن ده چې

د آسمانونو او ځمکې خالق له خپل جلال څخه تنازل وکړي، او د یو ماشوم په څېر وزیږیږي، او بیا خپل ځان خپلو مخلوقاتو ته وسپاري تر څو هغوی یې په صلیب باندې وځړوي؟ هغه څوک چې مصلوبیږي او وژل کیږي، هغه فنا کېدونکی بشر دی؛ خو خالق هغه ژوندی ذات دی چې نه مري، هغه قیوم ذات دی چې نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، ایا د هغه ذات د کمال عظمت او جلال له مخې، هغه ته دا نه ښایي چې له داسې څیزونو څخه پاک او منزه وي؟

الله جل جلاله په قرآن کریم کې موږ ته خبر راکړی چې ټول پیغمبران د یوې رسالې د دعوت لپاره راغلي و، چې اصلي موخه یې خپل قومونه یوازې د الله تعالیٰ عبادت کولو ته بلل و، هغه ذات چې هېڅ شریک نه لري، خو د وخت په تېرېدلو سره، ځینو کسانو دا تل پاتې رساله تحریف کړه، او د توحید هغه وړانګې یې لمنځه یوړې، نو الله تعالی آخری رسول محمد ﷺ را ولیږه، او هغه باندې یې قرآن کریم نازل کړ، تر څو د رسالت توحید تجدید کړي چې د هغه نه مخکې ټولو پیغمبرانو راوړي و.

### پایله کې، اې انسانه تا ته وایم:

اسلام د عقل او فطرت دین دی، دا هغه یواځینی دین دی چې د عظیم خالق له خوا د بشریت لپاره مقرر شوی دی؛ نو هر عاقل انسان ته لازم دی چې بیړه وکړي ترڅو په اسلام کې داخل شي، دا چې ایمان راوړي چې الله تعالی یې معبود، او اسلام یې دین، او محمد صلی الله علیه وسلم یې پیغمبر دی، او دا داسې یو کار دی چې انسان لپاره پکې هېڅ اختیار نه

شته؛ ځکه چې د قیامت په ورځ به الله تعالی د هر چا څخه د هغه څه په اړه وپوښتي چې رسولانو ته یې ځواب ورکړی و؛ که چېرې مومن وي، نو د هغه لپاره به ستره او عظیمه کامیابي وي، او که چېرې کافر وي، نو د هغه لپاره ښکاره زیان او تاوان دی.

که چېرې ته د دنیا په ریښتیني خوشحالۍ او د آخرت د نجات لټوونکی یې، نو پوه شه چې ستا په ژوند کې تر ټولو لویه او ګټوره پریکړه دا ده چې اسلام ومنې. د دې کار لپاره ته باید د زړه له تله دغه دوې کلیمې ووایې: "أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا رسول الله"،

ژباړه: "زه ګواه یم چې له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، او ګواه یم چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله استازی دی"، بیا خپل دین زده کړه او د دوو شهادتینو د غوښتنو (مقضیاتو) سره سم عمل وکړه، کوم چې پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړل، او د اسلام د ارکانو پابند پاتې کېدل دي.

همدا اوس یې ووایه، او مه یې زړه کېږه؛ ځکه چې مرګ ناڅاپه راتلای شي، نو داسې مهمه پرېکړه مه ځنډوه، شیطان ته دا فرصت مه ورکوه چې تا له خیر کار څخه منع کړي، زړور اوسه، او د رڼا او لارښوونې په لور خپله لاره پیل کړه.

همدا اوس خپله پرېکړه وکړه، او د اطمینان او رضایت څخه ډک نوی ژوند پیل کړه.

"أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا رسول الله"

فهرست

ایا تا له خپل ځانه پوښتلي چې چا پیدا کړی یې؟ ولې یې پیدا کړی یې؟ او دا چې پس له مرګه څه راځي؟ .................................................. 2
ایا تا له خپل ځانه پوښتلي دي چې چا پیدا کړی یې؟ او ولې یې پیدا کړی یې؟ او دا چې پس له مرګه څه راځي؟ .......................................... 2
پایله کې، اې انسانه تا ته وایم: .................................................. 12